شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٦۷٥ ګڼه / چهار شنبه ۰٦ شعبان‌المعظم ۱٤٤٦ هـ.ق / د سلواغې ۱۷مه ۱٤۰۳ هـ.ش /۰٥ فبروري ۲۰۲٥ میلادي

آغاز روند ثبت نام متقاضیان حج در میان مهاجرین افغان مقیم کشورهای خارج

وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان می‌گوید، روند ثبت‌نام متقاضیان حج در میان خانواده‌های مهاجر افغان را آغاز کرده است.به گفته وزارت امور مهاجرین و عودت‌کنندگان، آنعده از مهاجرین افغان که خواهان ادای مراسم حج باشند می‌توانند از تاریخ ۱٦ الی ۳۰ ماه‌جاری میلادی (دلو) ثبت نام کنند.

وزارت امور مهاجرین تاکید کرده که متقاضیان می‌توانند فورم‌های درخواستی را از ویب‌سایت این وزارت بدست آورند.

در خبرنامه آمده که مهاجرین افغان مقیم کشورهای ایران، پاکستان، اروپا و آسیا از این روند مستفید شده می‌توانند.

د افغان بزګرانو لاسنیوی کېږي



د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه ماموریت (یوناما) له مرستیال ایندریکا راتوات سره کتلي دي.اقتصادي معاونیت په یوې خبرپاڼه کې ویلي، په دې غونډه کې ښاغلي برادر د یوناما له مرستیال څخه غوښتي، چې په افغانستان کې د بشري مرستو په وېش کې روڼتیا ته پاملرنه وکړي او هېوادوالو ته دې د ژوند په مهمو برخو کې نورې اسانتیاوې هم رامنځته کړي. د یوناما مرستیال ویلي، دوی له اسلامي امارت سره په همغږۍ په افغانستان کې خپلو پراختیایي او بشري مرستو، راستنېدونکو افغانانو ته د اسانتیاوو برابرولو، د خصوصي سکتور... ۳مخ

بهره‌برداری از ۳ پروژه انکشافی در میدان هوایی بین‌المللی کابل

وزارت ترانسپورت و هوانوردی ملکی می گوید، کار سه پروژه انکشافی به ارزش ۲۰ میلیون افغانی در میدان هوایی بین‌المللی کابل تکمیل و به‌بهره‌برداری سپرده شد.به گفته وزارت ترانسپورت و هوانوردی ملکی این پروژه‌ها شامل ساخت دروازه‌عمومی میدان هوایی بین‌المللی کابل و ایجاد سایت‌های منویل و فایبرنوری در این میدان‌می‌شود.بربنیادخبرنامه، پروژه‌های یادشده توسط مولوی عبدالهادی محمد، رییس عمومی میدان هوایی بین‌المللی کابل به بهره‌برداری سپرده‌شده‌است.

وزارت ترانسپورت و هوانوردی ملکی در مورد منبع تمویل مالی این پروژه‌ها چیزی‌نگفته‌است.



د افغانستان بانک نن ۲٥ میلیونه ډالره لیلاموي



د افغانستان بانک اعلان کړی چې نن ۲٥ میلیونه امریکایي ډالره د داوطلبۍ له لارې لیلاموي.

د افغانستان مرکزي بانک پرون د یوه ټویټ په خپرولو سره سوداګریزو بانکونو، صرافانو او د پولي خدمتونو له شرکتونو چې په شرایطو برابر وي غوښتي څو په دې داوطلبۍ کې ګډون وکړي. یاد بانک زیاته کړې چې د لیلام ګټونکي باید خپل حسابونه د لیلام ورځې تر پایه تصفیه کړي.

بدخشان کې ۹٥ بېلا بېلې پروژې پلې شوې



د بدخشان سیمه ییز مسئولین وايي چې د ۱٤۰۳ لمریز کال په ترځ کې د دغه ولایت د مرکز فیض اباد په ګډون په ټولو ولسوالیو کې د ۲ میلیارده ۷۱٥ میلیونه افغانیو په لګښت ۹٥ پروژې پلې شوي او د ځینو نورو یې چارې روانې دي. د بدخشان د اقتصاد رییس وايي، چې د روان کال په ترځ کې د ولایت په کچه د اسلامي امارت له پراختیایي بودجې د ۳۱٥ میلیونه افغانیو په لګښت ۲۱ پراختیایي... ۳مخ

سرمقاله

د غیر ضروري توکو پر وارداتو بندیز پکار دی!

یو دوې ورځې وړاندې د هرات ولایت مقام کې د کوچنیو صنایعو د ترویج او انتظام په اړه د ځینو سوداګرو او صنعتکارانو په ګډون یو مجلس ترتیب شوی و. په یاد مجلس کې د نورو خبرو، مشورو او وړاندیزونو په ترځ کې د صنعکارانو له خوا هېواد ته د ځینو بې ضرورته بهرنیو مصرفي مصنوعاتو یو لېست هم وړاندې شو. نوموړي لېست کې هغه توکي شامل وو چې له یوې خوا د خلکو لپاره چندان ضروري نه دي او له بل لوري له بهره د دغسې توکو واردات پر داخلي پیداوارو ښه ډېر منفي اغېز کوي. د مثال په ډول ځینې سوداګر لګیا وي له چم ګاونډ هېوادونو ژاولې، پاپړ، کیکونه، نسوار، د لوبو سامان، د کباب سیخان، چړې، جاروګانې، د لاس امساوې او داسې نور په سلګونو هغه واړه مصنوعات چې زیاتره یې دلته هم جوړېږي هېواد ته راوړي. موږ باید دا خبره په کلکه یاد وساتو چې ترڅو یوه ټولنه کوم توکي او سامان ته په رښتیني ډول مجبوره نه شي، د حصول لپاره یې هڅه هم نه کوي، خو که واقعي اړتیا یې محسوس کړه بیا حتماً یوه لار هم ورته پیدا کوي او په هر صورت خپله اړتیا پوره کوي. پاتې شوه دا خبره چې د دغسې شیانو واردات زموږ د هېواد لپاره څومره زیانونه لري، نو هغه ښه ډېر دي، هغه دا چې لومړی خو زموږ پیسې له هېواده وځي، دویم دا چې د کورنیو مصنوعاتو مخه نیسي او بازار یې خرابوي، درېیم دا چې زموږ د خپلو خلکو بې روزګاري ورسره زیاتېږي، څلورم دا چې دا ډول بهرني توکي زیاتره بې کیفیته وي، نو که خوراکي وي د خلکو روغتیا هم تباه کوي او کنه پیسې خو یې حتماً ضایع کېږي او څلورم دا چې موږ پردیو ته محتاجوي او ژوند مو نورو پورې تړي.بناءً پردې ضروري ده چې زموږ د سوداګرۍ وزارت او ګمرکاتو مسئولین هېڅکله یوازې له سوداګرو د محصولاتو ترلاسه کولو زیاتوالی په نظر کې ونه نیسي، بلکې پر ګردو وارداتي توکو کلکه څارنه وکړي او ټول هغه توکي چې یا ډېر ضروري نه وي او یا دا چې په کور دننه یې د تولید انتظام نیول شوی له بهره یې د وارداتو کلک مخنیوی وکړي. مطلب په دغه سوداګرۍ کې به څه نا څه ګمرکي محصولات... ۳مخ

بند کمال خان؛ از افتتاح قلابی تا واقعیت! ص۲

پر ښځه د خاوند حقونه ۲مخ

افغان اعلانات ۳مخ

پکتیکا کې ۳ کلاشینکوفونه کشف شوي



د پکتیکا امنیه قوماندانۍ د رسنیو دفتر په ارګون ولسوالۍ کې د درې میله کلاشینکوفونو له کشف او ضبط څخه خبر ورکړی دی.یادې قوماندانۍ په خپل ایکس لیکلي، دغه کلاشینکوفونه دامنیتي ځواکونو د کشفي معلوماتو پر بنسټ ترلاسه شوي دي.دا په داسې حال کې ده، چې امنیتي... ۳مخ

د پنجشیر ۱۹۱۰ قیراطه زمرد بیا پلورل شوي



د پنجشیر د کانونو او پټرولیم ریاست مسئولینو پرون د دغه ولایت له کانونو د تازه استخراج شویو زمردو د پلورلو خبر ورکړی دی. د دغه ولایت د کانونو او پټرولیم رییس محمد قاسم امیري ویلي، چې یو ځل بیا د هېواد... ۳مخ

هلمند کې څه باندې ۱۰۰۰ ټابلېټ کا ګولۍ نیول شوي



له نشه‌یي توکو سره د مرکز لښکرګاه د مبارزې مدیریت یو تن د څه باندې زر ټابلیټ کا ګولیو سره لاس په لاس نیولی دی.

هلمند امنیه قوماندانۍ د رسنیو دفتر د خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې دغه کس یې د مرکز لښکرګاه دویمې امنیتي حوزې اړوند تر کشفي معلوماتو وروسته نیولی دی.د یادې قوماندانۍ د مسئولینو په وینا، چې نیول شوی کس به له... ۳مخ

د لبنیاتو له اړخه هېواد ځان بسیاینې ته نږدې شوی



د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت ویاند مصباح الدین مستعین وایي؛ اوس په افغانستان کې د لبنیاتو د تولید یو شمېر لوی او منځني شرکتونه فعالیت کوي او دا لړۍ لا په پراخېدو ده.

مستعین زیاتوي، افغانستان اوس د لبنیاتو د تولید برخه کې ځان بسیاینې ته نږدې شوی.

نوموړی وايي، هڅه کوي څو په هېواد کې د لبنیاتو تولید د صنعت په پیاوړتیا سره له نورو هېوادونو څخه د لبنیاتو واردات کم کړي.

بند کمال خان؛ از افتتاح قلابی تا واقعیت!

نجیب‌الله جهادوال

بند کمال خان که در ولسوالی چهاربرجک ولایت نیمروز قرار دارد، یکی از بندهای مهم کشور محسوب می‌شود که پس از حدود پنج دهه کار اعمار آن تکمیل و بهره‌برداری سپرده شد.
کار ساخت این بند در سال ۱۳۴۵هـ. ش آغاز شده بود، اما جنگ‌های داخلی، مشکلات اقتصادی، فساد، کار شکنی و مداخلات کشورهای بیرونی از جمله موانعی فراراه اکمال آن شمرده می‌شد که خوش‌بختانه با حاکمیت امارت اسلامی، تأمین صلح و امنیت سراسری و توجه به کارهای زیربنایی به‌خصوص مدیریت آب کشور توجه، بر اثر سعی و تلاش مسئولان تمامی موانع فراراه این پروژه برداشته شد و با تسریع روند عمرانی بالآخره این پروژه زیربنایی تکمیل و امروز رسماً افتتاح می گردد.
با وجودی که پس از تجاوز ائتلاف کشورهای غربی به رهبری امریکا در سال ۲۰۰۱ میلادی بر افغانستان که با شعار کاذب بازسازی و ترقی همراه بود و همه ساله از طریق مطبوعات بودجه زیادی برای همچو پروژه‌های در نظر گرفته می‌شد و بیشتر پروژه‌ها دو ـ سه بار به‌طور مکرر از سوی مقامات وقت افتتاح می‌شد اما طبق پالیسی اشغال گران که هیچگاهی خواهان خودکفایی کشور نبودند، با گذشت دو دهه هیچ یک از همچو پروژه‌هایی که بتواند به‌گونه درازمدت در وضعیت اقتصادی کشور و مردم تغییر مثبت وارد کند و افغانستان را از یک کشور مصرفی و متکی به کمک‌های خارجی به یک کشور خودکفاء و مرفه مبدل سازد، تطبیق گردید که یکی از همچو پروژه‌ها نیز بند کمال‌خان بود.
با وجودی که خبرهای آغاز پروژه ساخت بندکمال خان در سال ۱۳۹۰ هـ ش رسانه‌یی شد و قرار بود که با بودجهٔ ۷۸ میلیون دالر امریکایی طی چهار سال در سه مرحله به بهره‌برداری سپرده شود، اما بنابر فشارهای برخی کشورها، فساد گسترده و پالیسی اشغالگرانه با گذشت ده سال نیز کار آن تکمیل نه‌گردید، اما اشرف غنی رئیس اداره قبلی کابل که در دروغ پراگنی و شعارهای گاذب شهرت یافته بود، قبل از برگزاری انتخابات ششم میزان سال ۱۴۰۰ طی یک اقدام کمپاینی کاذب



و تغییر اذهان عامه که از طریق رسانه‌های مربوط به رژیم و اشغالگران بازتاب گسترده‌یی نیز داشت، در حالی که پنجاه فیصد کار این پروژه نیز تکمیل نشده بود، طی محلفی آنرا افتتاح نمود.
وی تکمیل این پروژه را یک دست‌آورد مهم حکومت خود تلقی نمود و یاد آور شد که در ساخت این بند ۱۲۰ میلیون دالر هزینه کرده است. اما بعداً به‌شمول بی بی سی برخی از رسانه‌های بین‌المللی خواستند از این پروژه گزارش تهیه کنند که از سوی حکومت اجازه سفر به ساحه و تهیه گزارش از این بند برای شان داده نشد. طبق معلومات حکومت اشرف غنی به‌خاطر پر شدن کاسه این بند در همان سال از ذخیره آب بند کجکی هلمند استفاده کرده بود که مستفید شونده‌گان آن را از ناحیه کمبود آب، با مشکلات جدی روبرو کرده و خساراتی را به آنها وارد نمود. علاوه بر آن با حاکمیت امارت اسلامی، زمانی که کار اعمار دوباره این بند آغاز می‌شد، معلوم گردید که به‌شمول حفر کانال و دستگاه تولید برق بخش‌های مهم این پروژه ناتکمیل بوده و افتتاح آن از سوی از اشرف غنی در سال ۱۴۰۰ فقط و فقط جنبه کمپاینی داشته است و بس، بناءً به اثر سعی و تلاش رهبری امارت اسلامی برای اعمار آن بودجه اختصاص یافت و روند بازسازی آن دوباره آغاز گردید که بالآخره امروز ما شاهد افتتاح واقعی آن هستیم.
طبق معلومات وزارت انرژی و آب ، این بند که از بودجه ملی تمویل شده است، با ۱۶متر ارتفاع ظرفیت ذخیره ۵۴ میلیون متر مکعب آب را دارد و با آب‌یاری بیش از ۸۰ هزار هکتار زمین و تولید ۹ میگاوات برق تولید نقش مهمی در توسعه اقتصادی و مدیریت آب کشور ایفاء خواهد کرد.

ملت فلسطین آزاده، بردبار و استوار خواهد بود

محمد مجاهد

فلسطین در بینش اسلامی سرزمین حشر و نشر موطن و قلب مرکز ثقل دارالاسلام است. کسی که برای کسب ثواب در آن سرزمین اقامت کند، مانند مجاهد فی السبیل الله محسوب می‌شود؛ سرزمین شیرمردان گروهی است که پیوسته منصور و پیروز اند و در مسیر حق استوار اند.
کهن ترین ملت شناخته شده ای که در فلسطین سکنی گزیدند و آن را آباد کردند، کنعانیان بودند و حدود ۴۵۰۰ سال پیش از شبه جزیره عرب به آنجا نقل مکان کردند.
فلسطین در ابتداء به نام سرزمین کنعان شناخته می‌شد و ملت کنونی فلسطین از دودمان کنعانیان اند و کسانی که بعدها به آنان مخلوط شده اند از ملت هایی ساکن در جانب شرقی دریای مدیترانه بلست ها بودند و علی رغم اینکه اقوام مختلفی بر فلسطین حکومت کردند، ولی اهالی اصلی فلسطین همواره بدون وقفه مشغول عمران و آبادی آن سرزمین بودند، تا اینکه با ورود اسلام اغلب قریب به اتفاق آنها به صورت اختیاری اسلام آوردند و زبان و گویش شان عربی شد.لذا اساس هویت اسلامی سرزمین فلسطین دارای طولانی ترین دوره ای ممتد تاریخی است.فتح اسلامی که در سال پانزدهم هجری قمری مصادف با سال(۶۳۶) میلادی طنین فرما شد و حفاظت از هویّت فلسطینی و پاسداری از همه‌ی نشانه‌های این هویّتِ اسلامی، بر حق و طبیعی، امری واجب، لازم و یک جهاد مقدّس است.
بدون تردید تا زمانی که نام فلسطین، یاد فلسطین و شعله‌ی فروزان مبارزه و مجاهدت همه‌جانبه‌ی این ملّت برافراشته بماند، امکان ندارد که پایه‌های رژیم اشغالگر صهیونیستی مستحکم گردد.اخراج اجباری بخش از ساکنان فلسطین توسط رژیم اشغالگر صهیونیستی و در تازه‌ترین مورد مدافع برجسته این رژیم ترامپ با ترفندی جدیدی از اردن و مصر خواستار پذیرش بیشتری از آوارگان غزه شده است. بنابراین ضروری است که عمیقاً به هستی و شکل‌گیری رژیم صهیونیستی نگریسته شود و روشن خواهد شد، که رژیم اشغالگر نمی تواند از توسعه‌طلبی، ظلم و تضییع حقوق مسلم مردم فلسطین و شهروندان غزه دست بکشد؛ زیرا موجودیّت و هویّت آن رژیم وحشی و سفاک در گروِ نابودی تدریجی هویّت و موجودیّت مردمان فلسطین است. مسلمین باید عمیقاً به توطئه که جدیداً توسط ترامپ طرح گردیده توجه کنند، این برنامه قابلیّت استمرار رژیم صهیونیستی را بر ویرانه‌های هویّت و موجودیّت غزه تضمین و بنا خواهد کرد.
علی کل حال از سال(۱۹۴۸) میلادی رژیم صهیونیستی نتوانسته کوچک ترین خدشه ای در عزم، هویت اسلامی و مجاهدت مردم متدین فلسطین وارد کند.شایان ذکر است، که یهودیان امروزی هیچ گونه پیوند تاریخی با سرزمین فلسطین ندارند و از نظر قومی نیز بنی اسرائیلی نیستند، بلکه اغلب قریب به اتفاق یهودیان که در آن سرزمین شهرک سازی می‌کنند از یهودیان خزر و از قبایل قدیمی مغولی که در شمال قفقاز می زیسته اند و در قرن هشتم میلادی یهودی شدند هستند.لذا اگر یهودیان حق بازگشت به سرزمین نیاکان خود را داشته باشند، آن سرزمین جنوب روسیه فعلی است نه فلسطین. ایجاد غده ای سرطانی» رژیم صهیونیستی « با حمایت همه جانبه کشورهای استکباری غربی و بازگشایی سفارت امریکا در دوره قبلی دونالد ترامپ در بیت المقدس خلاف تمام قوانین و میثاق های بین المللی بوده و می‌باشد. این نکته ظریف دلالت لطیفِ بر اوج خطر غربی صهیونیستی در قلب جهان اسلام دارد.اصلی ترین اهداف استکباری طواغیت بین المللی در رأس امریکا جدا ساختن دو بخش به هم متصل جهان اسلام در آسیا و آفریقا به دو بخش منفصل و جدا از هم است، تا از این رهگذر مانع



وحدت و یکپارچگی امت اسلامی شوند و این امت را به وسیله اهداف زهرآگین خویش تضعیف، عاجز و ناتوان نگهدارند تا زمینه برای گسترش اهداف استعماری مستکبرین در سرزمین های اشغالی بیشتر از پیش فراهم گردد.هدف امریکا و سایر مستکبران اشغالگر از این طرح ممانعت از بروز نیروی قدرتمند اسلامی است، تا شکست مفتضحانه امریکا و متحدانش را در افغانستان از این طریق تلافی و جبران کنند.معادله بقای رژیم صهیونیستی و استقرار، گسترش، رشد و بالندگی آن رژیم منحوس به ضمانت ضعف، پراکندگی و عدم اتحاد کشورهای اسلامی بستگی دارد، بالعکس معادله نهضت امت، وحدت و یکپارچگی کشورهای اسلامی به نابودی پروژه های و توطئه های رژیم صهیونیستی تعلق می‌گیرد، که در قلب جهان اسلام متمرکز شده است. حمایت پیوسته و لجام‌گسیخته امریکا از رژیم اشغالگر و میزبانی امریکا از نتانیاهو سفاک و قاتل کودکان غزه در هفته جاری فتیله مشتعل است، که صلح و امنیت جهانی را هر لحظه تهدید به انفجار می‌کند. میلیون ها نفر در جهان علیه رژیم صهیونیستی بخاطر کشتار مردم غزه و سیاست های تجاوزکارانه نتانیاهو اعتراض و تظاهرات کردند و اظهار همبستگی خود را با فلسطینی های مظلوم که شامل کودکان، زنان و پیرمردان است نمودند. اما امریکا با دعوت سران رژیم صهیونیستی بر دردها و مصیبت های بشریت با احساس افزود.
شایان ذکر است که مسلمین هرگز از سرزمین شان صرف نظر نخواهند کرد و رژیمِی را که باعث تضعیف و پراکندگی و مظهر سفاکی و طاغوتی است، هرگز در قلب شان نخواهند پذیرفت و جهاد را هم چون گذشته تا نابودی سفاکان غاصب صهیونیستی ادامه خواهند داد.سرانجام مستکبرین در خواهند یافت ظلم و ستمی را که در حمایت صهیونیستی ها مرتکب شدند، خسران و نابودی برای شان به ارمغان خواهد آورد. نمونه بارز این جمله در خسارات هنگفتی مالی و محیط زیستی لوس آنجلس کالیفرنیا تبلور یافته است. رژیم صهیونیستی پیش از فرارسیدن آن لحظات باید انحلال خود را زمزمه کند.مسلمین مسئلیت دارند که بنیاد و اساس اقدامات برای آزاد سازی سرزمین فلسطینیان و نابودی کامل صهیونیزم را طراحی و برنامه ریزی کنند، چون خداوند(ج) پیروزی بندگان مؤمن خود را تضمین کرده است، چنانچه ما مردم مسلمان افغانستان شاهد این تضمین الهی در سرزمین و جغرافیا آزاد کنونی خویش بودیم. در وجب وجب زمین پهناور، دینامیست های مسلمان در فراخوانی و بسیج آحاد مردم و جمع آوری نیروهای توانمند توانایی فوق العاده دارند و تجارب تاریخی فتح بیت المقدس و آزاد سازی نخستین قبله مسلمانان از چنگال صهیونیست‌های یهودی تبار در کارنامه‌ی غرور آفرین خویش ثبت صفحات زرین تاریخ نمودند.بدون شک تاریخ معاصر شکست مستکبرین امپریالیسم و رژیم صهیونیستی را در غزه با خون هزاران اطفال معصوم فلسطینی خواهند نوشت.شکست و افول رژیم صهیونیستی در فلسطین حقیقی، مؤکد و مسلم است، سنت های خالق پروردگار در جهان هستی و تجارب تاریخی این است که ظلم پایداری ندارد و ستمگران همواره در معرض بلا و انتقام الهی قرار دارند.مسئولیت ایمانی همه‌ی مسلمانان و کشورهای اسلامی این است، که حامیان رژیم صهیونیستی را با فشارهای قانونی ملزم به پذیرش قطعنامه ۱۸۱ بیست و نهم نوامبر ۱۹۴۷ میلادی نمایند.مسئله فلسطین دارای ابعاد انسانی بزرگ می باشد؛ در وهله اول سمبول فریاد مظلومان بر سر مدعیان حقوق بشر و افشاء کننده نفاق و دوگانگی تمدن‌هایی است، که به پشرفت و تکنالوژی خود می بالند و همه روز جرس و فریاد دفاع از گنبدی آهنین «رژیم صهیونیستی» را سر می‌دهند. همواره حقوق مردم فلسطین در امتداد هفتاد سال پسین رعایت نگردید و پایمال شد.فراموش نکردیم مدعیان دروغین حقوق بشر زندانهایی مانند بگرام، ابوغریب و گوانتانامو و استفاده از مادر بمب ها را در ننگرهار ثبت تاریخ و فرهنگ منحط و شرف باخته خود نمودند، چطور ممکن است از مردم فلسطین دفاع کنند؟
گشایش سفارت امریکا در بیت المقدس توسط ترامپ در دوره قبلی به معنای طرد و راندن فلسطینی هاست، که با منطق تاریخ، ارزش های مدنیت مدرن و قوانین بین‌المللی همخوانی ندارد.
به باور نگارنده مذاکرات جدید امریکا با اردن و مصر جهت پذیرش بیشتر آوارگان غزه به معنی آن است، که یهودیان صهیونیستی از گوشه و کنار جهان جاگزین ملتی شوند، که بیش از چهار هزار و پنجصد سال در سرزمین فلسطین امروزی پیشنه دارند، مستکبرین جهانی در صدد اند تا خون های بیشتری به سرزمین مقدسی ریخته شود که پایگاه پیامبران، محبت و صلح بودند.صهیونیست ها در فلسطین الگوی بجا مانده از استعمار غربی و شرقی اروپا قدیمی است، که از گوشه و کنار جهان برچیده شدند، ان شاءالله دیر یا زود از فلسطین نیز برچیده خواهند شد.

پر ښځه د خاوند حقونه

مولوي عبدالجبار درویش

په قرآنکریم کې د الله تعالی ارشاد مبارک دی: سړی د ښځو منتظم او نګهبان دی یعنې مسئول دی، ځکه چې الله تعالی دوی نه بعضو ته په بعضو باندې فوقیت او اوچتوالی ورکړی دی دا شان له دې وجې نه چې هغوی خپل مالونه خرچ کوي نو نیک بختې ښځې فرمانبرداري کوي او په حفاظت د الله تعالی د خاوند په غیر موجودګي (د هغوی د مفادات) حفاظت کوي.
د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې کله خاوند ښځه د فعل زوجیت یعنې د کوروالي لپاره را وغواړي او ښځه رانه شي او خاوند هغه شپه په غوصه کې تېره کړي نو تر سبا پورې فرشتې پر داسې ښځه باندې لعنت او ملامتیا کوي (متفق علیه)
د بخاري او مسلم په یو بل روایت کې راغلي چې کله ښځه د خپل خاوند بستره پرېږدي شپه یوازې تېره کړي نو فرشتې او ملایکې تر سبا پورې په هغې لعنت کوي په یو بل روایت کې داسې دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل قسم په هغه ذات چې د هغه په قبضه کې زما روح دی چې یو خاوند خپله ښځه خپلې بسترې ته را وغواړي او ښځه انکار وکړي نو د اسمان والا تر هغه وخته پورې له هغې نه ناراضه وي تر څو چې د هغې خاوند نه وي راضي شوي یعنې خوشحاله شوی.
حضرت ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې دیوې ښځې لپاره دا جایز نه دي چې هغه د خاوند په موجودیت کې د هغه له اجازې نه بغیر د هغه په کور کې د راتللو اجازه ورکړي (متفق علیه)
حضرت عمر فاروق رضي الله تعالي عنهما بیان کوي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: له تاسو نه هر سړی نګران یعنې مسئول دی او د هر نګران او ذمه وار نه به د خپل ماتحت یعنې د ده تر لاس لاندې کس پوښتنه کولای شئ حاکم هم ذمه وار دی او سړی هم په خپل اهل بیت او اهل خانه ذمه وار دی او ښځه هم د خپل خاوند د کور او د خپل اولاد مسؤله او نګهبانه او ذمه واره ده او د هر ذمه وار او مسئول نه به د خپل ماتحت یعنې لاندې خلکو پوښتنه کېږي (متفق علیه)
حضرت ابـي علي طلق بن علي رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:کله چې یو سړی د خپل خواهش پوره کولو لپاره خپله ښځه راوغواړي نو هغې لره فوراً راتلل په کار دي اګر چې هغه په تنور دوډۍ پخوي (ترمذي شریف)
حضرت ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله مبارک صلی الله علیه وسلم وفرمایل: که چېرې ما چاته د چا په مخکې د سجدې کولو حکم ورکولی نو ښځې ته به مې ویلي وه چې هغه خپل خاوند ته سجده وکړي (امام ترمذي شریف)
ام المومنین ام سلمه رضي الله تعالی عنها بیان کوي چې رسول الله مبارک صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د یوې ښځې داسې حالت کې انتقال وشي چې د هغې خاوند له هغې نه راضي او خوشحاله وي نو هغه جنتي ده (ترمذي شریف)
حضرت معاذ بن جبل رضي الله تعالی عنه نه روایت دی چې رسول الله مبارک صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې په دنیا کې کومه یوه ښځه خپل خاوند ته تکلیف رسوي نو د جنت حورې هغې ته وایي الله پاک دې تا تباه کړه خپل خاوند ته تکلیف مه ورکوه دی خو تاسره یو څو ورځې مېلمه دی او ډېر ژر ده چې له ستا نه جدا شي موږ ته راتلونکی دی (ترمذي شریف)
حضرت اسامه بن زید رضي الله عنه نه روایت دی چه رسول الله مبارک صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایل: چې زما نه وروسته د سړیو لپاره به د ښځو نه لویه فتنه بله نه وي (متفق علیه)

واردات اقلام غیرضروری؛ دستاورد اقتصادی یا دستبرد اقتصادی ؟

رحمت‌الله فیضان



واردات بی‌رویه اقلام مصرفی غیرضروری سبب خروج ارز، وابستگی اقتصادی، کاهش تولید داخلی، افزایش بیکاری، افزایش تورم و ضررهای صحی می‌شود. چنین روندی نه‌تنها سود اقتصادی ندارد، بلکه نوعی خیانت به اقتصاد ملی است، زیرا منابع مالی کشور به جای سرمایه‌گذاری در تولید داخلی، به خارج انتقال می‌یابد.

راهکارها برای کاهش واردات غیرضروری و تقویت تولید داخلی

باید ورود اجناس غیرضروری مسدود گردد و به‌جای آن، تاجران و کسبه‌کاران تشویق شوند که تولیدات داخلی را تقویت کنند. برای مثال:

- به‌جای وارد کردن روغن‌های خوراکی ازبیرون، تولید و مصرف روغن کنجد، زغر و پنبه‌دانه در داخل کشور تقویت گردد.- تعرفه‌های دخانیات و محصولات تنباکویی افزایش یابد تا مصرف آن کاهش پیدا کند.

- به‌جای وارد کردن کنسرو شفتالو، می‌توان شفتالوی هرات را به کنسرو تبدیل کرد.- به‌جای وارد کردن تخم آفتاب‌گردان، زارعین داخلی تشویق شوند تا آن را در داخل کشور کشت کنند.واردات بی‌رویه اقلام غیرضروری نه‌تنها به اقتصاد کشور آسیب می‌زند، بلکه فرصت‌های رشد تولید داخلی را نیز از بین می‌برد. اگر سیاست‌های اقتصادی کشور به سمت حمایت از تولیدکنندگان داخلی و مدیریت بهینه واردات حرکت کند، می‌توان اقتصاد ملی را تقویت و اشتغال را افزایش داد.

همایش‌ها (کنفرانس‌ها، سمینارها، نشست‌های علمی و تجاری) یکی از ابزارهای مهم برای تبادل دانش، تجربه و توسعه همکاری‌ها در عرصه‌های مختلف به شمار می‌روند.

در پرتو این اهمیت، همایشی در هرات تحت عنوان «همایش اقتصادی صنایع کوچک» از سوی مقام ولایت، وارگان‌های ذیربط برگزار گردید. تاجران و متشبثین برای حمایت از صنعتگران بر ایجاد زیرساخت‌های مدرن برای تولید و صنعت، توزیع زمین برای صنعت‌کاران، حمایت از تولید داخلی از طریق افزایش تعرفه و جلوگیری از قاچاق، تسهیل فرآیندهای اداری و کاهش موانع سرمایه‌گذاری تأکید داشتند.

در این همایش، بروشوری از اقلام وارداتی که یک تعداد آن‌ها غیرضروری به نظر می‌رسید، به اشتراک کنندگان توزیع گردید . در این بروشور، اقلامی که در ۹ ماه اخیر سال ۱۴۰۳ وارد افغانستان شده‌اند، ذکر گردیده که شامل کبریت، بسکویت، راد پرده، سیخ کباب، لوله آهنی بخاری، شیر، پودر پنیر و سایر اقلام مصرفی است که می‌توان بدون آن‌ها نیز زندگی را ادامه داد یا آن‌ها را در داخل افغانستان تولید کرد.

یکی از موارد تأمل‌برانگیز در این فهرست، واردات نزدیک به ۳۱۲ تن نصوار به نام «سِیتی» بود که واقعاً نگران‌کننده است. نصوار «سیتی» عمدتاً از برگ تنباکو، آهک (چونه) یا خاکستر، و برخی مواد شیمیایی افزودنی تشکیل شده است که ضررهای بی‌شماری برای صحت و اقتصاد مردم دارد. علاوه بر این، این محصول به وفور در داخل کشور تولید می‌شود و نیازی به واردات آن از خارج وجود ندارد.

دره صوف کې دوه کان کیندونکي مړه شوي

د سمنگانو ولایتي مسوولینو ویلي، چې د یاد ولایت په «دره صوف» ولسوالۍ کې د ډبرو سکرو د کان نړېدو له امله دوه کان‌کیندونکي مړه شوي دي.د سمنگان د امنیې قوماندانۍ ویاند په یوه خبرپاڼه کې ویلي چې دا پېښه د دره صوف ولسوالۍ په «شاکول شیخه» سیمه کې شوې ده.د هغه په وینا، چې د څېړنې ډله دې سیمې ته ور رسېدلې او د پېښې په تړاو پلټنې پیل شوې دي.د سمنگان په گډون تر دې مخکې هم د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د کانونو د نړېدو او په کان کې د چاودنو له امله لسگونه کسانو ژوند بایللی.



تخار کې د صنعتي ښارگوټي ...

ولایت په خواجه غار ولسوالۍ کې د صنعتي ښارگوټي د جوړېدو لپاره ۱۰۰۰ جریبه ځمکه ځانگړې او تثبیت کړې ده.د یادونې وړ ده، چې په دې وروستیو کې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د صنعتي ښارگوټو د جوړولو لپاره د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د ځانگړي فرمان پر اساس زرگونه جریبه ځمکه ځانگړې شوې ده، چې د داخلي تولیداتو د زیاتېدو او اقتصادي پرمختگ لپاره یو مهم گام گڼل کېږي.

د ننگرهار له زندانه ...

مخې د دغه ولایت له مرکزي زندان څخه ۱۲۳ تنه بندیان ازاد او د ۳۲۱ نورو بندیانو د بند موده راکمه شوې ده.سرچینې همدا راز زیاته کړې، چې په ازاد شویو بندیانو کې ۹۹ تنه نارینه او ۸ ښځې او ۱۶ ماشومان شامل دي.ورته مهال ازاد شویو زندانیانو د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د فرمان هرکلی کوي او وایي، چې دا اقدام د دوی د اصلاح او نوي پیل لپاره یو ښه فرصت دی، چې خپلې تېروتنې اصلاح او سالم ژوند غوره کړي.

د جگړه ییزو گډو ...

«له خلکو سره ښه چلند وکړئ، د اسلامي ملي اردو په لیکو کې د اخوت او ورورولۍ فضا رامنځته کړئ او له کبر، غرور او تعصب څخه ځان وساتئ او ورسپارل شوي مسوولیتونه د شریعت په رڼا کې یې سرته ورسوئ.»فارغانو هم په خپلو خبرو کې ډاډ ورکړی چې په هر راز شرایطو او د هېواد په گوټ گوټ کې خدمت ته چمتو دي.د مراسمو په پای کې، د مسوولینو له لوري فارغانو ته تصدیق پاڼې وېشل شوې دي.

د غیر ضروري توکو ...

د دولت خزانې ته راځي، خو بل لورته د هېواد د پرمختگ مخه ډب کوي او راتلونکې یې تباه کوي. هیله ده د حکومت مشران مسئولین دغه موضوع جدي وگڼي او هېواد ته د گردو غیر ضروري توکو پر واردولو کلک بندیز ولگوي.

کار اعمار یک پلچک ...

انکشافی ملل متحد به ارزش ۷۰۶ وهزار ۵۸۲ افغانی تحت نظارت ریاست آب و انرژی ولایت کندهار خبر داد.در خبرنامه وزارت انرژی و آب گفته شده است که: با تکمیل شدن این پروژه مشکلات رفت و آمد باشند گان محلی حل خواهد گردید، از تخریب کانال و ضایع شدن آب کانال نیز جلوگیری صورت خواهد گرفت.گفته شده است که در پروژه مذکور به یک تعداد مردم زمینه کار مساعد گردیده و کارهای آن در مدت یک و نیم ماه تکمیل خواهد شد.قابل یاد آوریست که وزارت انرژی و آب پس از فتح و پیروزی امارت اسلامی الی اکنون با توجه به نیازمندی های اولیه مردم و استفاده بهینه از منابع آب همواره در حل مشکلات مردم پرداخته و از جهت دیگر در ترقی و تعالی کشور گام های عملی برداشته که برای همگان محسوس است.

قیس قادری

د افغان بزگرانو ...

ملاتړ، د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو په برخو کې خپل ملاتړ ته دوام ورکوي.

نوموړي دغه راز زیاته کړې، چې د کوچنیو پورونو له لارې په کلیوالي سیمو کې د کوچنیو کاروبارونو رامنځته کولو او همدا راز افغان بزگرانو ته د کوکنارو د بدیل معیشت وړاندې کولو په برخو کې هم خپلو همکاریو ته دوام ورکوي.

اندریکا راتوات ډاډ څرگند کړی، چې د افغان بزگرانو د ملاتړ په موخه به پر هغوی اصلاح شوي تخمونه او کیمیاوي سرې ووېشي، کوچني بندونه به جوړ او کاریزونه به پاک کړي او همدارنگه به نړیوالو سوداگریزو مارکېټونو ته د افغان کرنیزو محصولاتو، صنعتي تولیداتو او لاسي صنایعو په برخه کې هم خپلې هڅې وکړي.

کار ساخت و نصب ...

کار آن تکمیل و به بهره‌برداری سپرده خواهد شد.به گفته رییس عمومی اجراییوی شرکت برشنا، نه تنها در هرات که در ولایت‌های مختلف کشور کار روی پروژه‌های برق‌رسانی به هدف خودکفایی کشور جریان دارد.چهار پروژه نیمه‌کاره برق در چهار ولسوالی ولایت هرات در حالی آغاز شده که با تکمیل آن ۴۰ میگاوات برق به صدها خانواده در این ولایت توزیع خواهد شد.

بدخشان کې ۹۵ بېلا بېلې ...

پروژې او همدارنگه د نادولتي موسسو په مالي ملاتړ د ۲ میلیارده ۴۰۰ میلیونه افغانیو په لگښت ۷۴ نورې تولگټې پروژې پلې شوي او یا یې چارې روانې دي.

هلمند کې څه باندې ...

بشپړو تحقیقاتو وروسته اړونده ارگانونو ته ور وپېژندل شي.د هلمند امنیه قوماندانۍ د رسنیو دفتر د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره هېوادوالو ته ډاډ څرگند کړی، چې د نشه یي توکو پر وړاندې گړندۍ مبارزه روانه ده.

پکتیکا کې ۳ ...

ځواکونو د ناقانونه وسلو د کشف او ضبط لپاره خپلې هڅې لا زیاتې کړې؛ ترڅو د سیمې ثبات او د خلکو امنیت ته وده ورکړي.

د پنجشېر ۱۹۱۰ ...

پر سوداگرو یو زره ۹۱۰ قیراطه زمرد د ۱۶۴ زره ۶۰۰ ډالرو په ارزښت د کانونو د څارنې کمېټې، د سیمه ییزو چارواکو او سوداگرو په شتون کې د داوطلبۍ له لارې وپلورل شول.

Shariat
Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly ، Director of Gov.dailies
0202526340
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
ویب سایت: WWW.shariatdaily.com

شریعت
د دولتي ورځپاڼو رئیس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
مسئول سکرتر: خالد افغان/ ۰۷۷۳۰۶۲۸۳۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ، کابل ـ افغانستان
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Wednesday 05 February 2025 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 675

سخنگوی وزارت انرژی و آب:

کار اعمار یک پلچک و بازسازی کانال در ولسوالی دند ولایت کندهار آغاز گردید

وزارت انرژی و آب با درنظرداشت اهمیت اساسی سکتور آب و انرژی و بادرک مسئولیت و مکلفیت های خویش در امر ترقی و خود کفایی کشور باور دارد که تنها راه نجات افغانستان از فقر و وابستگی متکی به گسترش تولید انرژی و مدیریت منابع آبی می‌باشد که در این گزارش به تازه ترین فعالیت آن وزارت نگاهی انداخته شده است.قاری مطیع الله عابد سخنگوی وزارت انرژی و آب با ارسال خبرنامه ای:» از آغاز کار اعمار یک پلچک و بازسازی قسمت های تخریب شدۀ کانال در قریۀ بلدی ولسوالی دند ولایت کندهار به کمک مالی دفتر. . . ص۳

نړۍ خبر

د چین او امریکا ترمنځ اقتصادي کړکېچ زیات شوی

روېټرز راپور ورکړی، چې د امریکا د گمرکي تعرفو لګولو په غبرګون کې چین د امریکا پر ډبرو سکرو او مایع طبیعي ګاز ۱۵ سلنه او دغه راز پر خامو تېلو، کرنیزو ماشینونو او لویو موټرو ۱۰ سلنه تعرفې لګولې دي.په دې راپور کې دا هم ویل شوي، چې د چین دغه تازه اقدام ښایي د دوو اقتصادونو ترمنځ کړکېچ لا پراخ او ډېر کړي. ویل کېږي، چې د امریکا او چین دغه سیالۍ به نه یوازې د دواړو هېوادونو اقتصادي اړیکې زیانمنې کړي؛ بلکې نړیوال بازار ته به هم ناوړه اغېزې ورسوي.

ریاض تر یو کال پورې له پاکستانه د تېلو پیسې نه غواړي

د پاکستان د لومړي وزیر دفتر وایي، سعودي عربستان تر یو کاله له پاکستانه د تېلو د پیسو اخیستل ځنډولي دي.پاکستان د سعودي عربستان له پراختیایي صندوق سره یو تړون لاسلیک کړی، چې له مخې به یې دې هېواد ته د ۱،۲ میلیارد ډالرو په ارزښت د تېلو د پیسو اخیستل ځنډوي.د پاکستان د لومړي وزیر دفتر په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې شهباز شریف د عربستان له دې اقدامه هرکلی کړی او ټمه یې ښودلې، چې له دې سره به د پاکستان اقتصاد له ثبات سره مرسته وکړي.دا په داسې مهال ده، چې پاکستان په تېرو کلونو کې هم د خپلو اړتیاوو د پوره کولو په پار له نړیوالو مالي ادارو، سوداګریزو همکارانو او په ځانګړې توګه له خپلو ملګرو هېوادونو څخه مالي مرستې د پور په بڼه ترلاسه کړې دي.

کشته شدن ۳ زندانی در نتیجه شلیک پولیس تاجیکستان

به گزارش رسانه‌های دولتی تاجیکستان، حداقل سه زندانی در نتیجه شلیک پولیس تاجیکستان در یکی از زندان‌های این کشور کشته شدند.بربنیاد گزارش، این زندانیان پس از حمله به نگهبانان یک زندان مربوط به وزارت عدلیه تاجیکستان با استفاده از ابزار دست‌ساز، کشته شده‌اند.وزارت عدلیه تاجیکستان گفته که سه نگهبان زندان در نتیجه حمله زندانیان زخمی شده‌اند.این وزارت تعداد زندانیان حمله کننده را ۹ تن گفته است.

کار ساخت و نصب ۴ سبستیشن برق در هرات آغاز شد

کار ساخت و نصب چهار سب‌ستیشن برق در چهار ولسوالی ولایت هرات با حضور مقام‌های ریاست عمومی برشنا، ریاست عمومی شرکت‌های امارتی و مسوولین محلی هرات آغاز شد.ریاست عمومی د افغانستان برشنا شرکت می‌گوید، کار این پروژه‌ها آغاز شده است.

داکتر عبدالباری عمر، رییس عمومی اجراییوی شرکت برشنا در نشست آغاز کار این پروژه‌ها می‌گوید، این شرکت متعهد به تکمیل کار پروژه‌های نیمه‌کاره در بخش برق‌رسانی است.آقای عمر تاکید می‌کند که این چهار پروژه از پروژه‌های نیمه‌کار اداره پیشین بوده که به‌زودی . . . ص۳

برگزاری نشست نوبتی کمیسیون ارزیابی تخلفات رسانه‌یی

وزارت اطلاعات و فرهنگ گزارش داده است که به رهبری مهاجر فراهی معین امور نشرات و معاون کمیسیون، نشست نوبتی کمیسیون ارزیابی تخلفات رسانه‌یی در معینیت امور نشرات برگزار شد.
خبیب غفران سخنگوی این وزارت گفته است که در آغاز این نشست مهاجر فراهی معین امور نشرات دست‌آوردها و تصامیم نشست قبلی را ارزیابی کرد.
به گفته وی در نشست نوبتی کمیسیون ارزیابی تخلفات رسانه‌یی ضمن بررسی دو شکایت رادیوهای(لونگ و نوای‌زن)، از سوی انجمن ژورنالیست‌های افغانستان مشکلات کارمندان رسانه‌ها با کمیسیون به اشتراک گذاشته شد.
آقای غفران افزوده است که جهت تثبیت و تقویت هویت ملی و اسلامی در جریان نشرات رسانه‌یی، کمیته‌یی برای استفاده اصولی و تثبیت واژه‌ها، اصطلاحات و القاب‌ها تعیین شد.
سخنگوی وزارت اطلاعات و فرهنگ گفته است که در جریان این نشست درمورد شش موضوع مختلف بحث صورت گرفته و دربارۀ آن تصامیم لازم اتخاذ گردید. **ببرک قیومی**

تخار کې د صنعتي ښارګوټي لپاره ۱۰۰۰ جریبه ځمکه بېله شوه

د تخار ولایت په خواجه غار ولسوالۍ کې د عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله د ځانګړي فرمان له مخې د صنعتي ښارګوټي لپاره زر جریبه ځمکه ځانګړې شوه.د یاد ولایت مرستیال والي ویلي، چې ټاکل شوي پلاوي د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالي د حکم پر اساس د تخار. . . ۳مخ

د جګړې ییزو ګډو زده کړو قوماندانۍ څخه سلګونه تنه فارغ شول

ملي دفاع وزارت، د جګړه ییزو ګډو زده کړو له قوماندانۍ څخه د سلګونو منسوبینو د فراغت خبر ورکړی دی.د یاد وزارت په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې د ملي دفاع وزارت د بېلابېلو قطعاتو او سیمه ییزو قول اردوګانو ۴۱۲ تنه ځوان منسوبین، د عبدالله بن مسعود (رض) د جګړه ییزو ګډو زده کړو قوماندانۍ له درې میاشتنیو مسلکي زده کړو له ترلاسه کولو وروسته، د فراغت سندونه ترلاسه کړل.د ملي دفاع وزارت د تعلیماتو او پرسونل معینیت مرستیال مولوي باز محمد حمیدي، په همدې مناسبت جوړ شویو مراسمو کې، فارغانو ته په خطاب کې ویلي دي: . . . ۳مخ

د ننګرهار له زندانه لسګونه تنه ازاد شول

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د ځانګړې مهربانۍ له مخې، د ننگرهار له مرکزي زندان څخه ۱۲۳ بندیان ازاد او د ۳۲۱ نورو د بند موده کمه شوه.د ننگرهار زندان رسنیز دفتر باختر آژانس ته ویلي، چې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د فرمان له . . . ۳مخ